# د مهاجرینو ستونزو ته د رسیدني کمېسیون

# کړنلاره

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العلمین، والصلوة والسلام علی سید المرسلین، وعلی آله واصحابه اجمعین.

**مبنی**

دغه کړنلاره د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ۱۵۷مه ګڼه او ۱۴۴۵/۳/۲۳ نېټې حکم پر اساس ترتیب شوې ده.

## لومړی فصل

## عمومي احکام

**موخې**

**لومړۍ ماده:**

دغه کړنلاره د لاندې موخو درلودونکې ده:

- له بهرنیو هېوادونو څخه د افغان مهاجرینو باعزته راستنېدنه؛
- په ګران هېواد کې د راستانه شویو مهاجرینو ځای پر ځای کول؛
- په دې وروستیو ورځو کې راستنېدونکو مهاجرینو ته د سوکاله ژوند او معیشت چارې برابرول؛ او
- د هېواد په آبادۍ کې د راستانه شویو مهاجرینو ونډې اخیستلو ته ښه زمینه برابرول.

**اصطلاحګانې**

**دوه یمه ماده:**

په کړنلاره کې ذکر شوي اصطلاحات لاندې معنی افاده کوي:

- **مهاجر:** مهاجر هر هغه چا ته ویل کیږي، چې د مختلفو عواملو له امله په بهر کې د مېشتېدلو په نیت تللی وي، په اړونده هیواد کې د مهاجر په توګه د ثبت رسمي اسناد په لاس کې ولري او یا یې هلته د هستوګنې په اړه قرائن او شواهد موجود وي.
- **مسافر:** مسافر هر هغه چا ته ویل کیږي چې بهر ته د کار، تجارت او یا عاجلو ضرورتونو په اساس په سفر تللی وي.

درېیمه ماده:

له مسافرو څخه د مهاجرینو تفکیک به د مهاجرت د رسمي اسنادو او یا قرائنو په اساس ترسره کیږي؛ البته هغه مهاجرین چې د اساسي امتیازاتو څخه برخمن کیږي، هغه قرائن چې په دې برخه کې معتبر دي په لاندې ډول دي:

۱- د مهاجرت تصدیق شوي اسناد؛

۲- کورنۍ به وي؛

۳- په بهر کې د هستوګنې تثبیت کوونکي قرائن او شواهد ولري.

**استقبال**

**څلورمه ماده :**

کله چې افغانان له سرحد یا فرضي کرښې څخه راتیر شي، لومړی به د اړونده دفتر له لوري د مهاجرینو تثبیت ترسره کیږي، بیا به د ۲۴ یا ۴۸ ساعتونو لپاره انتظارګاه ته انتقالیږي.

**پنځمه ماده:**

په عاجله توګه به د دوی صحي ستونزو ته ابتدایي رسیده ګي ترسره کیږي، خوراک او څښاک به ورکول کیږي او که ضرورت وي د البسې په برخه کې به هم مرستې ورسره کیږي.

**شپږمه ماده:**

په انتظارګاه کې به د انتقال په برخه کې لاندې انتخابونه ورته وړاندې کیږي :

الف – په خپله خوښه خپل اصلي سکونت ځای ته ستنېدل.

ب – په موقتي استوګنځای کې ځای پر ځای کیدل.

که چیرته لومړی انتخاب غوره کوي تعین شوې مرسته به ورسره کیږي او رخصتیږي به، او که چیرته دوهم انتخاب غوره کوي او معقوله توجیه هم ولري، نو موقتي استوګنځای ته به یې د انتقال چارې ترسره کیږي.

**اوومه ماده:**

د اساسي امتیازاتو مستحق به یوازې په دې وروستیو ورځو کي راستانه شوي یا راستنېدونکي مهاجرین وي، چې کورنۍ لرونکي او په شرایطو برابر وي.

## دوهم فصل

## د مهاجرینو انتقال او مېشتېدل

**اتمه ماده:**

هغه مهاجرین چې د معقولې توجیه له مخې په موقتي استوګنځایونو کې ځای پر ځای کېدل انتخابوي په دریو پړاوونو کې به د دوی ځای پر ځای کېدل ترسره کېږي:

الف – سرحد یا فرضي کرښې ته په نژدې استوګنځایونو کې مؤقتي ځای پر ځای کېدل.

ب – په خپلو ولایتونو او یا زونونو کې په مؤقتي استوګنځایونو کې ځای پر ځای کېدل.

ج – د مهاجرینو په شهرکونو کې په دایمي توګه ځای پر ځای کېدل.

**نهمه ماده:**

په درې واړه پړاوونو کې به یې د انتقال ټول تسهیلات ورته آماده کېږي او د انتقال په برخه کې به ورسره مرسته ترسره کېږي.

**لسمه ماده:**

که چیرته د یو ولایت اړوند مهاجرینو لپاره په خپل ولایت کې د دایمي میشت کېدو امکانات نه وو، په خپل اړونده زون کې به د دایمي میشت کېدو امکانات ورته برابرېږي.

## دریم فصل

## خدمات

**یوولسمه ماده:**

مهاجرینو ته به د استقبال په لومړي انتظارګاه کې د ژوند ټول ضروري خدمات د اړونده حکومتي جوړښتونو له لوري وړاندې کېږي.

**دوولسمه ماده:**

د ژوند ضروري خدمات عبارت دي له لاندې خدماتو څخه :

الف – اباته

ب – پاکې اوبه

ج – خواړه

د – ظرف، فرش او البسه

هـ - صحي مرستې

و – امنیت

ز – د ځای پر ځای کولو په دویم پړاو کې به د لومړنیو موادو مرسته کیږي او تعلیم به ورکول کیږي.

**دیارلسمه ماده:**

د خدماتو په تهیه کیدو کې به له حکومتي امکاناتو، داخلي خیریه بنسټونو، بین المللي خیریه سازمانونو او د خارجي هیوادونو له مرستو څخه استفاده کیږي.

## څلورم فصل

## د مرستو جلب

**څوارلسمه ماده:**

له اولس، ملي سوداګرو او له حکومتي کار کوونکو څخه د مرستو د جلب په موخه به له مهاجرینو سره د مرستو د انسجام یو صندوق جوړیږي، دا صندوق به په ټولو دولتي او خصوصي بانکونو کې خپل حسابونه خلاصوي.

**پنځلسمه ماده:**

داخلي خیریه بنسټونه به تشویق کیږي او دې ته به هڅول کیږي چې د مهاجرینو لپاره مرستې راټولې کړي.

**شپاړسمه ماده:**

د داخلي او خارجي مرستو د جلب او جذب لپاره له معیاري او ټولنیزو (همګاني) رسنیو، مساجدو او منبرونو څخه په منظمه توګه استفاده ترسره کیږي، ترڅو ولس، ملي سوداګر او ټول اهل خیر وهڅول شي چې له مهاجرینو سره مرستې ترسره کړي.

**اووه لسمه ماده:**

د بهرنیو چارو وزارت، د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت، اقتصاد وزارت، عامې روغتیا وزارت، مالیې وزارت، د پیښو پر وړاندې د مبارزې اداره او سره میاشت به په منظمه توګه د خپلو افغانانو د مرستو د جلب په برخه کې د یو منظم پلان له مخې په مشترکه توګه کار کوي.

**اتلسمه ماده:**

د دې لپاره چې ثابته شي چې مرستې په شفافه توګه مصرفیږي؛ د مرستو د ویش د نظارت لپاره به له حکومتي ادارو، دیني علماء کرامو، ملي سوداګرو، متنفذینو او د مهاجرینو له استازو څخه یوه کمېټه تشکیلیږي او دا کمېټه به وخت پر وخت د مرستو د ویش په اړه د خپل څار راپورونه نشروي.

## پنځم فصل

## مهاجرینو ته د کاري فرصتونو او تجارانو ته د تسهیلاتو برابرول

**نولسمه ماده:**

سوداګر او صنعت کاران باید په دریو کټګوریو وویشل شي :

١. د لوړې کچې سوداګر او صنعت کار؛
٢. د منځنۍ کچې سوداګر او صنعت کار؛ او
٣. د ټیټې کچې سوداګر او صنعت کار.

د لوړې کچې سوداګر هغه سوداګر دي چې تجارت یې له یو څخه په ډیرو هیوادونو کې وي، د منځنۍ کچې سوداګر هغه سوداګر دي چې تجارت یې د هغه هیواد په کچه وي او کوچني سوداګر هغه سوداګر دي چې واړه کاروبارونه لري، لکه : دوکان، هوټل او دې ته ورته نور.

**شلمه ماده:**

څمکې دې د لومړۍ او دویمې کټګورۍ تجارانو او صنعت کارانو ته د هغوی د مالي او کاري ظرفیتونو په تناسب ورکول شي او د ټیټې کچې له سوداګرو سره باید د کاروبار په پیدا کولو کې مرستې ترسره شي.

**یو ویشتمه ماده:**

که چیرته بهرني هیوداونه مهاجرو تجارانو ته د سرمایې د انتقال پر وړاندې ستونزې پیدا کوي، د یو احتیاطي اقدام په توګه باید له حقوق پوهانو څخه یوه کمېټه تشکیل او په دې برخه کې د احتیاطي اقدام په توګه حقوقي لارې چارې ولټوي، همدغه راز له یادو هیوادونو سره د خبرو او تفاهم لپاره په دې برخه کې یو مذاکراتي ټیم هم وټاکل شي.

**دوه ویشتمه ماده:**

له هیواده بهر میشت هغه افغان کډوال چې بیرته هیواد ته راستنیږي، لاندې اسانتیاوې دې ورته برابرې کړل شي:

١. په ځانګړو شرایطو سره د مالیاتو معافول.
٢. په اسانه شرایطو سره په صنعتي پارکونو کې د اړتیا مطابق د ځمکو د نمرو ویشل.
٣. په ده سبز ښارګوټي او د کور او ښارجوړولو وزارت اړونده نورو ښارګوټو کې د اوسیدلو نمرو ویشل.

٤. د اسانتیاوو برابرولو په موخه د اړوندو ارگانونو او ادارو په گډون د صنعت او سوداگرۍ په وزارت کې د یوه ځانگړي دفتر رامنځته کول.

٥. د سوداگرو او راستنیدونکو د چارو او مقدماتي کارونو د ترسره کولو په موخه په بندرونو کې د سیمه‌ییزو دفترونو رامنځته کول.

٦. له سوداگرو سره راغلو انجنیرانو او کارگرانو ته د اوږدمهاله ویزو صادرول.

٧. صنعتي پارک چې برېښنا، گاز او د استوگنې لپاره څمکه ولري.

٨. د راستنیدونکو د ماشینرۍ او وسایلو لپاره د گمرکي معافیت رامنځته کول.

٩. سوداگرو او راستنیدونکو ته له گمرکي محصول پرته تر دوو شخصي موټرو پورې اجازه ورکول.

١٠. د سوداگرو د راستنېدو په خاطر د رسنیو، ویب‌پاڼو او ټولنیزو پاڼو له طریقه یاد سهولتونه نشرول.

١١. سوداگرو او راستنیدونکو ته د بانکي اسانتیاوو د خدمتونو وړاندې کول.

١٢. راستنیدونکو سوداگرو، پانگه‌والو او نورو افغانانو ته د ونډو شرکت (سهامي شرکت) رامنځته کول.

١٣. سوداگرو او راستنیدونکو ته معدنیات په مناسبو او اسانو شرائطو ورکول.

١٤. د کډوالو د ښارگوټو په څنډو کې د کارموندنې او ښه امکاناتو برابرولو په موخه د صنعتي پارکونو، مارکیټونو او تجارتي مرکزونو رامنځته کول.

١٥. د کوچني، منځني او ډېرو کوچنیو تشبثاتو د رشد په خاطر د مربوطه ادارو له طریقه د ورکشاپونو او روزنیزو پروگرامونو په لاره اچول.

١٦. د تشبثاتو لپاره د اسانتیاوو او ماشینرۍ امکاناتو برابرول.

١٧. په ځانگړو شرایطو سره د کوچنیو فابریکو او کاري چاپیریال لپاره په زونونو کې د مرکزونو رامنځته کول.

## شپږم فصل

## د مهاجرینو دایمي میشتیدل او د څمکو ویش

**درویشتمه ماده:**

تر ټولو د مخه باید د مهاجرینو لپاره د ځانگړو شوو څمکو تصفیه د اړونده ارگانونو د یوې مشترکې کمیټې له لوري ترسره شي او له تصفیې وروسته دې د انتقال لپاره د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی حکم صادر شي.

**څلور ویشتمه ماده :**

څمکې دې مهاجرینو ته د دوی د کورنۍ غړو او ضرورتونو ته په کتو ورکول شي؛ کوم چې په خپل هیواد کې د اوسیدلو لپاره څمکه او امکانات ونه‌لري.

**پنځه ویشتمه ماده:**

څمکې دې په یوه شفافه طریقه سره (چې ډیر دقت پکښې شوی وي) توزیع شي.

**شپږ ویشتمه ماده :**

د راستنېدونکو مهاجرینو سره دي د کورونو په جوړولو کې د یو ځانګړي نظم او ترتیب له مخې کومک وشي.

## اووم فصل

## امنیت

**اووه ویشتمه ماده:**

د مهاجرینو د امنیت لپاره به د امنیتي او تصفیوي کمېسیون په شمول د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو او د ارشاد، حج او اوقافو وزارتونو او د علماوو د شورى د یو نماینده له لوري یوه امنیتي کړنلاره ترتیب او تطبیق شي، کړنلاره به په لاندې مهمو ټکو متمرکزه وي :

الف – د انتظار او انتقال په مرحله کې د مهاجرینو امنیت .

ب – په میشت ځایونو کې د مهاجرینو امنیت.

ج – له مهاجرینو څخه د امنیت د اخلال په موخه د مغرضو کړیو د استفادې مخنیوی.

**اته ویشتمه ماده:**

کړنلاره به په هر ولایت کې د امنیتي او تصفیوي کمېسیون له خوا د مرکزي کمېسیون د هدایت مطابق تطبیقیږي.

## اتم فصل

## د کړنلارې د تطبیق نظم او ترتیب

**نهه ویشتمه ماده:**

د دې لپاره چې کړنلاره په ښه توګه تطبیق شي باید له لاندې نظم او ترتیب څخه استفاده وشي:

(۱) د راستنیدونکو مهاجرینو چارو د تطبیق لپاره د اسلامي امارت په کچه د عالي کمېسیون تشکیل:

۱. د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي؛ د مشر په توګه.
۲. د بهرنیو چارو وزارت سرپرست د غړي په توګه؛
۳. د ملي دفاع وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
٤. د کورنیو چارو وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
٥. د مالیې وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
٦. د پوهنې وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛

۷. د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
۸. د اقتصاد وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
۹. د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
۱۰. د استخباراتو لوی ریاست سرپرست د غړي په توګه ؛
۱۱. د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
۱۲. د عامې روغتیا وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
۱۳. د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
۱٤. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
۱۵. د اوبو او انرژي وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
۱٦. د ټولګټو وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
۱۷. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
۱۸. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
۱۹. د سرحدونو، قومونو او قبایلو وزارت سرپرست د غړي په توګه ؛
۲۰. د پیښو پر وړاندې د مبارزې ادارې ریاست سرپرست د غړي په توګه ؛
۲۱. د د افغانستان بانک لوی یاست سرپرست د غړي په توګه ؛
۲۲. د احصائیې او معلوماتو ملي ادارې ریاست سرپرست د غړي په توګه ؛
۲۳. د افغاني سرې میاشتې ریاست سرپرست د غړي په توګه ؛
۲٤. بلال کریمي د عالي کمېسیون د دارالانشاء په چوکاټ کې د ویاند په حیث.

(۲) دا کمیسیون باید په خپل تشکیل کې یوه دارالانشاء او لاندې کمیټې ولري:

**الف – د کډوالو د ثبت، تثبیت او استقبال کمېټه:**

۱- د کورنیو چارو وزارت لومړی مرستیال مولوي محمد نبي عمري؛ د مشر په توګه.
۲- د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو وزارت استازی د غړي په توګه.
۳- د ملي دفاع وزارت استازی د غړي په توګه.
٤- د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت استازی د غړي په توګه.
٥- د سرحدونو، قومونو او قبایلو وزارت استازی د غړي په توګه.
٦- د استخباراتو عمومي ریاست استازی د غړي په توګه.
۷- د احصائیې او معلوماتو ملي ادارې استازی د غړي په توګه.
۸- د کورنیو چارو وزارت استازی سلطان محمد مفکر د غړي په توګه.

**ب- د کډوالو د لېږد او ټرانسپورټ کمېټه:**

۱. د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت سرپرست ملا حمید الله اخوندزاده؛ د مشر په توګه.
۲. د ملي دفاع وزارت د تحرکاتو لواء قومندان ملا بسم الله آخند؛ د غړي په توګه.

۳. د کورنیو چارو وزارت استازی د غړي په توګه.

٤. د استخباراتو عمومي ریاست استازی د غړي په توګه.

٥. د مالیې وزارت استازی د غړي په توګه.

**ج -د کډوالو د مؤقتي مېشت کولو کمېټه:**

۱. د کډوالو او بېرته راستنیدونکو چارو وزارت مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد؛ د مشر په توګه.

۲. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مرستیال مولوي فضل الباري فضلي؛ د غړي په توګه.

۳. د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت نماینده د غړي په توګه.

٤. د عامې روغتیا وزارت مرستیال ډاکټر محمد حسن غیاثي؛ د غړي په توګه.

٥. د پېښو پر وړاندې د مبارزې او چمتووالي ملي ادارې استازی مولوي احمد شاه ذهین؛ د غړي په توګه.

٦. د افغاني سرې میاشتې ټولنې استازی ملا صالح محمد آخندزاده؛ د غړي په توګه.

**د- د کډوالو د روغتیایي چارو او خدماتو کمېټه:**

۱. د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت مرستیال مفتي سید احمد مستقیم؛ د مشر په توګه.

۲. د عامې روغتیا وزارت مرستیال مولوي محمد اسحاق صاحب‌زاده؛ د غړي په توګه.

۳. د کډوالو او بېرته راستنیدونکو چارو وزارت استازی د غړي په توګه.

٤. د مالیې وزارت استازی د غړي په توګه.

٥. د اوبو او انرژۍ وزارت استازی د غړي په توګه.

٦. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت استازی د غړي په توګه.

۷. د چارو ادارې لوی ریاست استازی د غړي په توګه.

۸. د چاپیریال ساتنې ملي ادارې استازی د غړي په توګه.

**هـ- د کډوالو لپاره د مرستو د جلب او جذب کمېټه:**

۱. د اقتصاد وزارت سرپرست قاري دین محمد حنیف؛ د مشر په توګه.

۲. د کډوالو او بېرته راستنیدونکو چارو وزارت استازی د غړي په توګه.

۳. د بهرنیو چارو وزارت استازی د غړي په توګه.

٤. د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت استازی د غړي په توګه.

٥. د مالیې وزارت استازی د غړي په توګه.

٦. د افغاني سرې میاشتې ټولنې استازی د غړي په توګه.

۷. د استخباراتو عمومي ریاست استازی د غړي په توګه.

۸. د پېښو پر وړاندې د مبارزې او چمتووالي ملي ادارې استازی د غړي په توګه.

**و- د کډوالو د دایمي مېشتولو او ځمکو د وېش کمېټه:**

١. د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست مولوي حمدالله نعماني؛ د مشر په توگه.
٢. د کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت د ځمکو رئیس د غړي په توگه.
٣. د کډوالو او بیرته راستنېدونکو چارو وزارت استازی د غړي په توگه.
٤. د اوبو او انرژۍ وزارت استازی د غړي په توگه.
٥. د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت استازی د غړي په توگه.
٦. د استخباراتو عمومي ریاست استازی د غړي په توگه.
٧. د اوبو رسولو شرکت استازی د غړي په توگه.
٨. د چاپیریال ساتنې ملي ادارې استازی د غړي په توگه.
٩. د اړوندې ښاروالۍ استازی د غړي په توگه.

**ز- د اطلاعاتو او عامه پوهاوي کمېټه:**

١. د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت سرپرست ملا خیرالله خیرخواه؛ د مشر په توگه.
٢. د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو وزارت استازی د غړي په توگه.
٣. د صنعت او سوداگرۍ وزارت استازی د غړي په توگه.
٤. د ارشاد، حج او اوقافو وزارت استازی د غړي په توگه.
٥. د امربالمعروف، نهی عن‌المنکر او شکایتونو د اوریدو وزارت استازی د غړي په توگه.
٦. د استخباراتو عمومي ریاست استازی د غړي په توگه.
٧. د حکومت د رسنیو مرکز مشر د غړي په توگه.

**ح- د سوداگرو او صنعت کارانو لپاره د اسانتیاوو د تنظیم کمېټه:**

١. د صنعت او سوداگرۍ وزارت سرپرست الحاج نورالدین عزیزي؛ د مشر په توگه.
٢. د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو وزارت استازی د غړي په توگه.
٣. د کرنې، اوبو لگولو او مالدرای وزارت استازی د غړي په توگه.
٤. د مالیې وزارت د گمرکاتو استازی د غړي په توگه.
٥. د کورنیو چارو وزارت استازی د غړي په توگه.
٦. د د افغانستان بانک استازی د غړي په توگه.
٧. د استخباراتو عمومي ریاست استازی د غړي په توگه.

**ط- د مسجدونو او زده‌کړو د تنظیم کمېټه:**

١. د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مرستیال شیخ زر محمد حقاني؛ د مشر په توگه.
٢. د پوهنې وزارت د سرچینو او ادارې مرستیال مولوي صبغت الله وصیل؛ د غړي په توگه.

۳. د لوړو زده کړو وزارت استازی د غړي په توګه.

٤. د تخنیکي او مسلکي تعلیماتو ادارې استازی د غړي په توګه.

٥. د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو وزارت استازی د غړي په توګه.

٦. د کار او ټولنیزو چارو وزارت استازی د غړي په توګه.

**ی- د مالي چارو د تنظیم کمېټه:**

١. د مالیې وزارت مالي مرستیال مولوي عبدالقدیر احمد؛ د مشر په توګه.

٢. د د افغانستان بانک استازی د غړي په توګه.

۳. د چارو ادارې د تدارکاتو ریاست استازی د غړي په توګه.

٤. د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو وزارت استازی د غړي په توګه.

٥. د صنعت او سوداګرۍ وزارت استازی د غړي په توګه.

٦. د استخباراتو عمومي ریاست استازی د غړي په توګه.

**ک- کډوالو ته د ځمکو په اجاره ورکولو او د ملکیت انتقال کمېټه:**

١. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سرپرست مولوي عطاءالله عمري؛ د مشر په توګه.

٢. د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو وزارت استازی د غړي په توګه.

۳. د مالیې وزارت استازی د غړي په توګه.

٤. د چارو ادارې عمومي ریاست استازی د غړي په توګه.

٥. د صنعت او سوداګرۍ وزارت استازی د غړي په توګه.

**ل- کډوالو ته د کاري فرصتونو برابرولو کمېټه:**

١. د کار او ټولنیزو چارو وزارت سرپرست الحاج ملا عبدالمنان عمري؛ د مشر په توګه.

٢. د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو وزارت استازی د غړي په توګه.

۳. د صنعت او سوداګرۍ وزارت استازی د غړي په توګه.

٤. د اقتصاد وزارت استازی د غړي په توګه.

٥. د کرنې، اوبو لګولو او مالدرای وزارت استازی د غړي په توګه.

**دېرشمه ماده:**

د مهاجرینو اړوند اسناد به د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو په وزارت کې ساتل کیږي.

**یو دېرشمه ماده:**

په شهرکونو کې به کورونه پر دریو کټګوریو تقسیمیږي:

(۱) کوچنی کور: چې مساحت یې پنځه بسوې وي، تر پنځو غړو لرونکو کورنیو ته به ورکول کیږي.

(۲) اوسط کور: چې مساحت یې لس بسوې وي، تر لسو غړو لرونکو کورنیو ته به ورکول کیږي.

(۳) اعلی کور: چې مساحت یې پنځلس بسوې وي، تر لسو غړو زیاتو لرونکو کورنیو ته به ورکول کیږي.

**انفاذ**

د مهاجرینو چارو د تنظیم د عالي کمېسیون او د اړونده کمېټو له لوري د دوی د وظایفو او صلاحیتونو د تعین کړنلاره ترتیب او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له منظورۍ وروسته د اجراء وړ ده.

**پای**